# هنري ونسټارټ او اسرارالا فاغنه
# Henry Vansittart and the Secrets of the Afghans

محمد جاوېد خلیل، سلمیٰ شاهین

**Abstract**

In this article not only Henry Vansittart is introduced for the first time as an orientalist who worked for Pashto language and history in eighteenth century, but also a valuable history of the Pashtoons in the shape of Israr-ul-Afaghana written in the early stage of sixteenth century (1580 AD) is introduced. The shape of the old Pashto script of eighteenth century along with the translation of Henry Vansittart is also given in the article for the interest of those readers and writers who have some relation to Pashto language and history.

کله چې انګرېزان په برصغیر پاک وهند مکمل قابض شو نو ورو ورو ئې پښې د پښتنو سیمې ته هم را اوږدې کړې ۔ په هغه وخت د پښتون خوا رعایتي علاقې د سکهانو تر اقتدار لاندې وې ، چې مرکز ئې لاهور وو۔ کله چې دا قابضین د پښتنو په علا قه راخوارۀ شول او پښتانۀ ئې په خپله ولقه کښې راګېرول شروع کړل نو د ډېر مزاحمت سره مخ شول ۔ څو جنګونه د انګرېزانو او پښتنو ترمېنځه اوشول چې انګرېزان ئې پوزې له راوسته ۔ ځکه نو انګرېز سرکار په خپل سوچ کښې بدلون راوستو او ددې ځائے استوګنو سره ئې د راشه درشه پالیسي اختیار کړه ۔ دا کوشش ئې شروع کړو چې ددې قوم اندرون او لټوي او پټ رازونه ئې معلوم کړي ۔ ځکه نو د پښتو ژبې زده کړې او ددې ادبیاتو ته ئې پام راګرځېدو ۔ دوي په دې پوهه وو چې په دې توګه به ددې قوم اندروني کمزورۍ راونسي او کله چې ئې اندروني کمزورۍ معلومې شي نو بیا به په دوي قبضه کول او ورسره وخت تېرول آسان شي ۔ ځکه نو کۀ فېرنګي فوجي افسران وو او کۀ سِول ،دوي ټولو پښتو ژبې زده کړې ته وخت ورکړو ۔ ورسره عیسایي مبلغینو هم خپل کار شروع کړو او دغسې پښتو ژبې او ادب ته خاص پام لرنه او توجه ورکړے شوه ۔

په شروع کښې د داسې کسانو شمېر ډېر کم وو او د دې ځائے استوګنو سره ئې رويه هم څه ښه نۀ وه ۔ ولې وروستو وخت تېرې او د ضرورت له مخې دا شمېره ډېره زياته شوه ۔ څومره ئې چې وس کېدے شو هر يو د خپل وس مطابق کوششونه اوکړل او په رويه کښې ئې بدلون هم راوستو۔ دې باره کښې ډاکټرمس رضيه نور محمد داسې واي : ۔

> اٹھارھویں صدی میں برطانوی پالیسی پدرانہ شفقت کے اصول پر مبنی تھی ۔ اس لئے اس میں وہ زہر شامل نہیں ہے جو مذہب کی بنا پر مشنریوں کی تحریروں میں عام طور پر پایا جاتا ہے ۔ حکومت او ر رعایا کے درمیان مفاہمت کی تلاش کا یہ پہلا مرحلہ تھا کہ وارن ہیسٹنگز نے (مشرقیات) کے لئے عملی اقدامات کیے ۔کلکتہ مدرسہ اور ہندو کالج بنارس مشرقی علوم کے مرکز بنے لیکن زبان اور ادبیات کے لئے اس سے بھی زیادہ اہم اقدام وہ تھے جومستشرقین کے کارناموں کی حوصلہ افزائ او ر ایشیاٹک سوسائٹی کی تاسیس کا سبب بنے ۔یہ دور اس لحاظ سے یادگار ہے کہ اس میں سر ولیم جونز کے پائے کا مستشرق گزرا ہے جسکو ایک سے زیادہ اسباب کی بنا پر مشرقیات کا بانی کہا جاتا ہے ۔ یہ دور اس لئے بھی یادگار ہے کہ جونز کا لگایا ہوا پودا ایشیاٹک سوسائٹی اس قدر پہلا پھولا کہ یورپ میں مشرقیات میں بیش از بیش دلچسپی پیدا ہو گئی ۔[1]

ولې بعضې مستشرقين داسې وو چې ددې هرڅۀ نه پرته صرف او صرف د پښتو ژبې او ادب د ترقۍ د پاره ئې کوششونه کول ۔ په داسې کسانوکښې يو انګرېز مستشرق هنري ونسټارټ Henry Vansittart هم وو۔ هنري ونسټارټ هغه مستشرق دے چې اوسه پورې ئې يو ليکوال هم څۀ يادونه نۀ ده کړې ځکه نو دلته دے په وړومبي ځل معرفي کوؤ۔ هنري ونسټارټ د جون د مياشتې په درېمه نېټه کال ١٧٣٢ء کښې په لندن کښې پيدا شوے وو۔ د شروع سبق ئې په ريډنګ سکول کښې اووې ۔ بيا ئې ونچسټر کالج کښې داخله واخسته او نور سبق ئې د غلته پوره کړو۔ د سبق په دوران کښې د مېډمينهم په فرانسسکنز سوسائټۍ کښې ممبر شو۔ په کال ١٧٤٥ء کښې د ديارلسو کالو په عمر کښې ايسټ انډيا کمپنۍ کښې ملازم شو او فورټ سېنټ ډېوډ ته په سفر شو۔ په کال ١٧٦٠ء کښې د فورټ وېلېم د ګورنر او د انډيا کونسل د صدر په حېث په بنګال کښې مقرر کړے شو ۔ دۀ په بنګال کښې د صوبيدار مير جعفر په ځائے مير قاسم صوبېدار جوړ کړو خو وروسته د ميرقاسم او د کمپنۍ په مېنځ کښې تعلقات خراب شول ۔ هنري و نسټارټ دا خپله غلطي او ګنله استعفٰی ئې ورکړه او داسې دے په کال ١٧٦٤ء کښې انګلستان ته واپس لاړو۔

پنځه کاله پس په کال ١٧٦٩ء کښې هم ددې کمپنۍ ډائرېکټر مقرر کړے شو او يوځل بياهند ته راولېږلے شو۔ د بعضو دا خيال دے چې دے په لاره د جهاز د ډوبېدو په وجه په

کال ١٧٧٠ء کښې مړشوے دے ـ ددې نه وړاندې ددۀ د ژوندد حالا تو څۀ پته نۀ لګي ـ ولې مونږ دا په یقین سره وئیلے شو چې دے تر٣مارچ ١٧٨٤ء پورې ژوندے وو۔ ددې اندازه مونږ دهغه خط نه لګولے شو کوم چې دۀ په هغه وخت کښې د سوسائټۍ صدر ته لیکلے وو۔ چې پکښې ئې د خپل کتاب دهغه تلخیص ترجمې ذکر کړے دے ، کوم چې دۀ د؟ اسرار الا فاغنه؟ په نامه په انګرېزۍ کښې ترجمه کړے وو۔ ددې خط په آخر کښې ددۀ د نوم سره دغه نېټه ٣مارچ ١٧٨٤ء درج ده ـ ځکه نو ددې نه دا ثابتېږې چې دے دغه وخت پورې ژوندے وو۔ بلکې ١٧٨٤ء پورې په کلکته کښې وو۔ ددې خط اقتباس او آخري حصه لاندې نقل کولے شي ـ

A letter from the Late Henery Vansitart, ESQ to the President[2]

Sir,

Having some time ago met with a Persian abridgment, composed by Maulavi Khairuddin of the Asrarul Afaghinah, or the secrets of the Afghans, a book written in the Pashto language by Husain the son of Saber, the son of Khizer ... Under those impressions I venture to lay before the society the translation of an abridged history of the Afghan I also submit a specimen of their language, which is called by them Pukhto.

I am, sir, with the greatest respect, your most obedient humble servant

Henry Vansittart,
Calcutta, March 3, 1784

ترجمه: جناب لږه موده مخکښې ماته د اسرارلا فاغنه یا د افغانانو راز د کتاب یو تلخیص مخې له راغلو چې مولوي خېرالدین لیکلے دے ـ اصل کتاب په پښتو کښې حسېن ابن صابرابن خضر لیکلے دے ... هم ددې احساساتو ترمخه زۀ د سوسائټۍ په خدمت کښې د افغانانو د تاریخ د تلخیص ددې ترجمې پېش کولو هڅه کوم ـ دې سره زۀ د دوي د ژبې یوه نمونه هم پېش کوم چې پختو (پښتو) بللے شي ـ

جناب انتهایي احترام سره ستا فرمانبردار او یو کم تر ملازم
هنري ونسټارټ
کلکته ٣ مارچ ١٧٨٤ء

د دې خط نه دا ثابتېږي چې تر ٣مارچ ١٧٨٤ء پورې ددۀ ژوند یقیني دے ـ البته د اسرالا فاغنه په انګرېزۍ کښې د ترجمې کولو نه پس چې کله ددۀ دا لیک په Asiatic Researches

کښې په کال ١٧٨٧ء کښې شائع شو نو د هغه وخت اډیټر ولیم جونز دهٔ سره د ?متوفي? (Late) لفظ استمال کړے دے ـ دې نه دا ثابتېږي چې دے د ١٧٨٤ء ١٧٨٧ء په مېنځ کښې مړ دے ـ په ١٧٧٠ء یا ١٧٧١ء کښې ځکه نه دے مړ چې دهٔ د ترجمې په وخت ددې کتاب آخر کښې حافظ رحمت خان ته مرحوم لفظ لیکلے دے څوک چې په ٢٣اپرېل ١٧٧٤ء کښې شهید شوے وو۔

هر څهٔ چې وي ولې هنري ونسټارټ ته په مستشرقینو کښې د اولیت درجه په دې حاصله ده چې دهٔ د پښتنو د اصل نسل یو ډېر زوړ تاریخ په انګرېزۍ کښې ترجمه کړو۔ چې ورسره ئې د پښتو ژبې د لیک نمونه هم شامله کړې ده چې دهٔ د Asiatic Researches سوسائټۍ صدر ته چاپ د پاره لېږ لې وه ـ

اسرار الا فاغنه د نن نه تقریباً څلورسوه او دوه دېرش کاله پخوا ١٥٨٠ء کښې لیکلے شوے دے ـ مصنف ئې حسېن ابن صابرابن خضر دے چې یوپښتون وو۔ دا کتاب ګوټے چې زمونږ په لاسو کښې دے ټولې دوه دېرش(٣٢) صفحې لري ـ ددې کتاب خوبي دا ده چې د پښتونه په فارسي، انګریزي او بیا اُردو دریو واړو ژبو کښې ترجمه شوے دے ـ فارسي ترجمه ئې مولوي خېرالدین کړې ده چې نېټه ئې معلومه نهٔ ده ـ انګرېزي ترجمه ئې مستشرق هنري ونسټارټ د Asraral-Afaghina or the secrets of the Afghans په نوم په کال ١٧٨٤ء کښې کړې ده ـ اردو ترجمه ئې په کال ٢٠٠٧ء کښې سعودالحسن خان روهیله کړې ده او هم په دغه کال ئې افغان رسیرچ سنټرلاهور نه شائع کړې ده ـ

اسرالا فاغنه د افغانانو تاریخ دے چې پښتانهٔ ئې پکښې بني اسرائیل ښودلي دي ـ دا کتاب چې د تلخیص په شکل کښې زمونږ سره موجود دے حسېن ابن صابر ابن حضر په پښتو کښې لیکلے دے ـ حسېن یو پښتون وو او داسې معلومېږي چې دا کتاب به په یو ضخیم شکل کښې لیکلے شوے وي ـ سعودالحسن خان روهیله د کتاب په باره کښې داسې لیکي :-

> اسرار الافاغنہ کے مصنف کا نام حسین ہے او ر اسکا پورہ نسب حسین ابن صابرابن خضر ہے۔اس نے یہ کتاب پشتو زبان میں تحریر کی اور یقیناً یہ ضخیم کتاب ہوگی جسکی انتہائی مختصر شکل آپکے سامنے ہے۔اس کتاب کا مصنف جیسا کہ کتاب کے متن سے ظاہر ہوتا ہے ایک عالم و فاضل شخص تھا جو نہ صرف پشتو پر عبور رکھتا تھا بلکہ افغانستان و ہندوستان اور یہودیوں کی تاریخ سے بھی اچھی طرح واقف تھا۔[3]

> ترجمه :ـ د اسرارلافاغنه د لیکونکي نوم حسېن دے او ددهٔ پوره نسب حسېن ابن صابرابن خضر (یعنې حسېن زوئے د صابر زوے د خضر) دے ـ دهٔ دا کتاب پښتو

کښي وليکلو او دا يقين لرو چي دا کتاب به يو ضحيم کتاب وي چي ډېر مختصر شکل ئي ستاسود وړاندې دے ـ ددې کتاب ليکونکے څنګه چي دکتاب د متن نه معلوميږي يو عالم، فاضل سړے وو۔ چي نهٔ صرف په پښتو ښهٔ پوهېدو بلکې د افغانستان هندوستان او يهوديانو د تاريخ نه هم ښهٔ واقف وو۔

هسې خو د پښتنو د تاريخ په حقله ډېر کتابونه په مختلفو وختونو کښې ليکلے شوي دي ـ د پښتنو د اصل نسل په باره کښې مختلفې رائے قائمې کړے شوي دي ، ولې څوک هم ختمي فېصلي ته لا نهٔ دي رسېدلي او خبره لا روانه ده ـ خو د اسرارالافاغنه يو افاديت دا دے چي دا ډېر پخوا ليکلے شوے دے او بيا دومره حېثيت لري چي په څو ژبو کښې ترجمه شوے هم دے چي پښتانهٔ ئې پکښې بني اسرائيل ښودلي دي ـ دلته مونږ ده څهٔ رائے قائمولو او زړو بحثونه نه ځان يو طرف ته ساتو اونهٔ هغه اقتباسونه رانقل کوؤ کوم چي د پښتنو د تاريخ په بابله په مختلفو کتابونو کښې خوندي دي ـ ولې د هنري ونسټارټ د ترجمې هغه نقل ورکوو چي لوستونکو ته ترې د هغه وخت دپښتو ليک اندازه معلومه شي ـ کله هم چي پوره کتاب مخې له راغلو نو بيا به پرې يوه مکمله رائے قائمول او بحث کول وي ـ

د اسرارالافاغنه په باره کښې سعودالحسن خان روهيله ليکي:

حسین کی یہ کتاب پشتو زبان میں تھی اور مولوی حیرالدین نامی ایک شحص نے اس کتاب کی فارسی زبان میں تلخیص کردی تاکہ عام ہندوستان بھی اس سے استفادہ کرسکیںمولوی خیرالدین کے بارے میں بھی کچھ معلوم نہیں البتہ اتنا اندازہ ہوتاہے کہ وہ پشتو اور فارسی زبانوں پر عبور رکھتا تھا اور لفظ مولوی اس کے مذہبی ہونے کی نشاندہی کرتاہے ـ شاید اصل مصنف حسین ابن صابر کی طرح وہ بھی پٹھان نسل سے ہوگا۔[4]

ترجمه : د حسېن دا کتاب په پښتو ژبه ليک وو اؤ مولوي خېرالدين نومې يو کس ددې کتاب په فارسی کښې تلخيص تيار کړوچې عام هندوستانيان ترې هم فائده پورته کړي د مولوي خېرالدين په باره کښې هېڅ معلومات په لاس نه راځي البته دومره اندازه کېږي چي هغه په پښتو او فارسی دواړو ژبوښهٔ پوهېدو او لفظ ,,مولوي د هغه د مذهب سره تعلق لرلو ښنخه ورکوي۔ شايد اصل ليکوال حېسن ابن صابر غوندې هم د پښتنو نسل سره تعلق لري ـ

*A Specimen of the* PUSHTO LANGUAGE.

بِستَمَ ظَالِمَانُ حَاکِمَانُ

اَوْرِ گُوْرَ پیښَوَرْ دِرِيْ وَاْرَه یَوْ دِيْ

By the oppreſſion of tyrannical rulers,
Fire, the grave, and *Paiſhór*, all three have been rendered equal.

دِسُنَّتْ وِ پِرْ خِصَّةَ دَيْ رَاْ غِلِيْ رَوَاْ یَتْ

With reſpect to prayers enjoined by the *Sunnah*, they are remitted.

It is thus expreſſed in the reports:

کَمَايْ اُو کَا دیْرَه شِهْوِيْ کَاْ ئِيْ نَکَهِیْسْ پِرِيْ نَوِيْ

If a *man* perform them, it is very laudable. If he do not perform them, it is no crime in him.

میرزا خان

لِيْ مِيرزَا که دَ خُوْيِ بِهْتَرِيْ نَوِيْ
دَ سَيِّدْ تَفَاوُتْ سِهِ دَيْ لَه بَهْمَنَهْ

If the diſpoſition be not good, *O Mírzá*,
What difference is there between a *Sayyed* and a *Bráhmah!*



شکل ۱: د ۱۷۸۴ء د وخت د پښتو د لیک نمونه اود هنري ونسټارټ ترجمه



( 67 )

IV.

A LETTER

FROM

*THE LATE HENRY VANSITTART, ESQ.*

TO THE PRESIDENT.

*Sir,*

HAVING ſome time ago met with a *Perſian* abridgment, compoſed by *Maulavi Khairuddin*, of the *aſrarul Afaghinah*, or the ſecrets of the *Afghans*, a book written in the *Puſhto* language by *Huſain*, the ſon of *Sabir*, the ſon of *Khizr*, the diſciple of *Hazrat Shah Kaſim Sulaimani*, whoſe tomb is in *Chunargur*, I was induced to tranſlate it. Although it opens with a very wild deſcription of the origin of that tribe, and contains a narrative which can by no means be offered upon the whole as a ſerious and probable hiſtory; yet I conceive that the knowledge of what a nation ſuppoſe themſelves to be, may be intereſting to a Society like this, as well as of what they really are. Indeed, the commencement of almoſt every hiſtory is fabulous; and the moſt enlightened nations, after they have arrived at that degree of civilization and importance which has enabled and induced them to commemorate their actions, have always found a vacancy at their outſet, which invention, or at beſt preſumption, muſt ſupply. Such fictions appear at firſt in the form of traditions; and having in this ſhape amuſed ſucceſſive generations by a gratification of their national vanity, they are committed to writing, and acquire the authority of hiſtory.

F 2

32

شکل ٢: د خط پوره نقل کوم چې هنري ونسټارټ په درېم مارچ ١٧٨٤ء د برطانيې بادشاه ته ليکلے ؤ- ړومبی پانه



( 68 )

As a kingdom is an aſſemblage of component parts, condenſed by degrees from ſmaller aſſociations of individuals to their general union, ſo hiſtory is a combination of the tranſactions not only of the different tribes, but even of the individuals of the nation of which it treats: each particular narrative in ſuch a general collection muſt be ſummary and incomplete. Biography, therefore, as well as deſcriptions of the manners, actions, and even opinions of ſuch tribes as are connected with a great kingdom, are not only entertaining in themſelves but uſeful, as they explain and throw a light upon the hiſtory of the nation.

Under theſe impreſſions I venture to lay before the Society the tranſlation of an abridged hiſtory of the *Afghans*: a tribe at different times ſubject to and always connected with the kingdoms of *Perſia* and *Hinduſtan*. I alſo ſubmit a ſpecimen of their language, which is called by them *Pukhto*; but this word is ſoftened in *Perſian* into *Puſhto*.

I am, *Sir*,

with the greateſt reſpect,

your moſt obedient humble ſervant,

HENRY VANSITTART.

*Calcutta, March* 3, 1784.

31

شکل ۳:   د خط پوره نقل کوم چې هنري ونسټارټ په دريم مارچ ۱۷۸۴ء د برطانيې بادشاه ته ليکلے ؤ- دوېمه پاڼه

# حوالي

[١] رضیه ډاکټر نورمحمد، اردو زبان اور ادب میں مستشرقینکی علمي خدمات کا تحقیقي و تنقیدي جائزه از ١٤٩٨ ته ١٩٤٧ء، صفح ٤٣، شئن آرټ پرنټرز ٥٢ میکلوډ روډ لاهور ـ ناشر مکتبه خیابان ادب ٣٩ چمبرلین روډ لاهور١٩٨٥ء ـ

[٢] حسېن ابن صابر، ترجمه روهیله سعود الحسن خان ررااسرارالافاغنه ،، ١٥٨٠ء افغان رسیرچ سنټر لاهور ٢٠٠٧ء; Asrar-ul-Afghinah(1580), English translation (1784) p31

[٣] اسرارالافاغنه صفحه ٥

[٤] اسرار الافاغنه صفحه ٦

[٥] خلیل ډاکټر محمد جاوېد رر پښتو او مستشرقین،، پښتو اکیډیمي پېښور یونیورسټي ٢٠١١ء ـ

[٦] روشن خان، ترجمه نرگس سیماب ررتذکره،، د پښتنو اصلیت او دهغوي تاریخ عامر پرنټنګ ایجنسي پېښور٢٠١١ء ـ

[٧] ررپښتو،، درې میاشتنۍ مجله اپرېل ـ جون ٢٠٠٨ء پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي ـ